# د سفنیا نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

سفنیا نبي د میلاد نه مخکې شاوخوا ۶۲۰ کال کې د یوشیاه پاچا د مذهبي اصلاحاتو څخه مخکې لسیزه کې وعظ کړی دی.

سفنیا نبي په دې کتاب کې پېشګویي کوي چې د یهودا خلک به لکه د نورو قومونو په شان چې د نورو خدایانو عبادت کوي، د سزا

سره مخامخ شي. برسېره پر يهودا، فلسطين، موآب، مصر او آشور به هم د خدای تر قضاوت لاندې راشي. هغه د اسراييلو عاجز او خاکساره خلکو ته يادونه کوي چې که چېرې هغوی بېرته د څښتن خواته راوګرځي، نو کولای شي چې د دې قضاوت نه خلاصون ومومي.

د کتاب په پای کې سفنيا د اسراييلو د قوم د شان او شوکت، قدرت او د خپلو خلکو سره د خدای د مينې په اړه خبرې کوي

چې څښتن به يې يوځل بيا د هغوی
په برخه کړي.

## د موضوعګانو لست

د اورشليم او يهودا په هکله د
څښتن د قضاوت ورځ: ۱: ۱– ۳:۲

د يهودا د ګاونډيانو سقوط: ۲:
۴– ۱۵

د اورشليم تباهي او خلاصون: ۳
فصل

۱ دا هغه پيغام دی چې څښتن

سفنیا ته په هغه وخت کې ورکړ چې
د آمون زوی یوشیا د یهودا پاچا ؤ.
سفنیا د کوشي زوی، د جدلیا لمسی
او د امریا کړوسی ؤ. امریا د حزقیا
پاچا زوی ؤ.

## د ښتن د قضاوت ورځ

٢ ښتن وویل: «زه د ځمکې
د مخ نه ټول شیان له منځه وړم. ٣
زه به ټول انسانان او حیوانات،
مرغان او ماهیان له منځه یوسم. زه
به بدکاره خلک تباه کړم. زه به ټول
انساني نسل له منځه یوسم او

هېڅوک به ژوندی پاتې نه شي. ما
څښتن داسې ويلي دي.

۴ زه به د اورشليم او يهودا
ټولو خلکو ته سزا ورکړم. زه به د
دې ځای نه د بعل د بت نښې له
منځه يوسم او هېڅوک به هغه بت
پرسته کاهنان چې د هغه خدمت
کوي، ياد نه کړي. ۵ زه به هغه
خلک له منځه يوسم کوم چې بامونو
ته خېژي او لمر، سپوږمۍ او ستورو
ته عبادت کوي. زه به هغه خلک هم
تباه کړم چې په ښکاره زما عبادت

کوي او دعوه کوي چې ما ته به
وفادار اوسي، خو بیا د مولک د بت
په نوم قسم خوري. ۶ زه به هغه
خلک له منځه یوسم چې زما نه یې
مخ اړولی او نور زما پیروي نه کوي،
هغه خلک چې ما ته رجوع نه کوي
او نه زما نه لارښوونه غواړي.»

۷ هغه ورځ رانژدې ده چې
څښتن به د خلکو په هکله قضاوت
کوي، نو د هغه په حضور کې
خاموش اوسئ. څښتن خپل قوم د
قرباني دپاره تیار کړی دی او د

هغوی دښمنان یې رابللي دي چې د یهودا وطن لوټ کړي. ⑧ څښتن وایي: «د قتل او قتال په هغه ورځ به مشرانو، د پاچا زامنو او هغو ټولو خلکو ته چې د پردیو د رسمونو او رواجونو پیروي کوي، سزا ورکړم. ⑨ په هغه ورځ به زه هغو خلکو ته چې د بت پرستانو په شان عبادت کوي او له دې څخه ځان ساتي چې د عبادتځای په دروازه باندې قدم کېږدي او هغو خلکو ته چې د دې دپاره قتلونه او غلاګانې کوي چې د خپلو بادارانو کورونه د غنیمت د

مال نه ډک کړي، سزا ورکوم.

١٠ خښتن وايي: «په هغه ورځ
به تاسو د اورشليم د ماهي د
دروازې نه د چيغو اوازونه اورئ.
تاسو به د ښار په نوې برخه کې
فريادونه او په غونډيو باندې به د
ودانيو د رالوېدلو شورماشور اورئ.
١١ ای هغو خلکو چې د ښار په
کوزه برخه کې اوسېږئ، ژړا او
انګولا وکړئ! ځکه چې د ښار ټول
سوداګران مړه شوي دي.

١٢ په هغه وخت کې به زه څراغ
راواخلم او اورشليم به ولټوم. زه به
هغو خلکو ته سزا ورکړم چې
ځانونه بېغمه ګڼي او په خپل ځان
باندې اعتبار کوي او د خپلو ځانونو
سره وايي: «څښتن زمونږ سره څه
کار نه لري، نه ښه کوي او نه بد. ١٣
د هغوی مال او دولت به لوټ کړای
شي او کورونه به يې وران شي.
هغوی به هېڅکله په هغو کورونو کې
چې جوړ کړي يې دي، نه اوسيږي
او نه به د خپلو انګورو د هغو باغونو
شراب وڅښي چې کرلي يې دي.»

۱۴ د ښبنتن ورځ چې هغه به په
کې د خلکو په هکله پرېکړه کوي
رانژدې شوې ده، ډېره رانژدې شوې
او زر زر راروانه ده! هغه به ډېره
سخته ورځ وي، ځکه چې په هغه
ورځ به ډېر زړور عسکر هم چیغې
وهي. ۱۵ هغه ورځ به د غضب ورځ
وي، هغه به د سختیو او پرېشانیو
ورځ او د ورانی او تباهی ورځ وي،
یوه تیاره او خړه پړه ورځ او یوه
توره او د توفاني ورېځو ورځ وي.
۱۶ هغه به د جنګ د سرنیو د
اوازونو نه ډکه ورځ او د جنګ د

چيغو ورځ وي چې عسکر به په
قوي شويو ښارونو او لوړو برجونو
باندې حمله کوي.

۱۷ خښتن وايي: «زه به په
انسانانو باندې داسې مصيبت راولم
چې هغوی به لکه د ړندو په شان
ګرځي. هغوی زما په وړاندې ګناه
کړې ده او اوس به د هغوی وينې
لکه د اوبو په شان بهيږي او د هغوی
مړي به په ځمکه باندې خوسا شوي
پراته وي.»

۱۸ په هغه ورځ چې ښبنتن په غضب شي، نو د هغوی سپين زر او سره زر به هم هغوی خلاص نه کړي. ټوله دنيا به د هغه د قهر په اور کې له منځه لاړه شي او د ځمکې په مخ ټول اوسېدونکي به په ناڅاپي مرګ باندې مړه شي.

## د توبې دپاره زارۍ کول

۱-۲ ای بې‌شرمه قومه، مخکې له دې چې تاسو لکه د بوسو په شان لېرې باد شئ او مخکې له دې چې د ښبنتن سخت قهر په تاسو باندې

نازل شي او مخکې له دې چې هغه دربانديې په غضب شي، يوځای سره راټول شئ. ٣ ای د ځمکې په مخ ټولو عاجزانو چې د هغه په حکمونو باندې عمل کوئ، د څښتن خواته راوګرځئ. نېک کارونه وکړئ او د څښتن په مخکې خپل ځانونه عاجزان کړئ. کېدای شي چې تاسو د څښتن د قهر په ورځ د سزا نه خلاص شئ.

**څښتن به د يهودا شاوخوا قومونو ته سزا ورکړي**

۴ د غزې په ښار کې به
هېڅوک پاتې نه شي. اشقلون به
وران شي. د اشدود خلک به په نيمه
ورځ کې وشړل شي او د عقرون
خلک به د خپلو ښارونو نه وويستل
شي. ۵ افسوس ستاسو په حال، د
بحيرې په غاړه باندې اوسېدونکو
کريتيانو، تاسو تباه يئ. څښتن
پرېکړه کړې ده چې تاسو ته څرنګه
سزا درکړي. ای کنعانه، د فلسطينيانو
ځمکې، زه به تاسو له منځه يوسم او
ستاسو نه به هېڅوک هم پاتې نه
شي. ۶ د بحيرې په غاړه چې

ستاسو کومه ځمکه ده هغه به په
خړځای باندې بدله شي او په هغې
کې به د شپنو دپاره جونګړه او د
پسونو دپاره پنډغالی وي. ۷ د
یهودا کوم خلک چې ژوندي پاتې
شوي دي، هغوی به ستاسو وطن
ونیسي. هغوی به هلته خپلې رمې
خروي او د اشقلون په کورونو کې
به اوسیږي. د هغوی څښتن خدای
به په هغوی باندې پام کوي او
هغوی ته به یوځل بیا نېکمرغي
راولي.

۸ مطلق قادر څښتن وايي: «ما
د موآب د خلکو پېغورونه اورېدلي
دي او ما وليدل چې د عمون خلکو
څنګه زما د قوم سپکاوی کړی او په
هغوی باندې يې ملنډې وهلې دي او
لافې وهي چې د هغوی ځمکه به
ونيسي. ۹ زه د اسراييلو څښتن
خدای په خپل ذات باندې قسم
خورم چې موآب او عمون به د
سدوم او عموره په شان تباه شي.
هغه ځای به د اغزو په بوټو، د
مالګو په کندو او ابدي کنډوالو
باندې بدل شي. زما د قوم نه چې

کوم خلک ژوندي پاتې شوي دي،
هغوی به لوټ کړي او ځمکه به يې
ونيسي.»

١٠ نو په دې خاطر به د موآب
او عمون خلکو ته د هغوی د کبر او
غرور له امله سزا ورکړل شي، ځکه
چې د مطلق قادر څښتن قوم ته يې
سپکاوی کړی او ملنډې يې ورباندې
وهلې دي. ١١ څښتن به په هغوی
باندې وېره راولي. هغه به د ځمکې
په مخ د نورو قومونو ټول خدايان له
منځه يوسي او هر يو قوم به په خپل

وطن کې د ښبنتن عبادت کوي.

۱۲ ای د ایتوپیا خلکو، ښبنتن به تاسو هم په توره باندې ووژني.

۱۳ ښبنتن به په شمال کې د آشور د تباه کولو دپاره د خپل قدرت نه کار واخلي. هغه به د نینوا ښار وران او ویجاړ کړي او په وچې دښتې باندې به یې بدل کړي. ۱۴ په هغه ځای کې به رمې، پادې او هر ډول حیوانات پراته وي. د هغې په کنډوالو کې به کونګیان او بومان

اوسیږي او د کرکیو نه به ناري وهي.
کارغان به د کورونو د دروازو په
خوله باندې اوازونه کوي. د ودانیو د
سبر تیران به یې لوخ شي. (۱۵) نو د
دې ښار سره به چې په خپل قوت
باندې مغروره دی او فکر کوي چې
هغه خوندي دی، داسې کار وشي. د
دې ښار خلک فکر کوي چې په
ټوله دنیا کې دا یو لوی ښار دی. خو
دا ځای به داسې شاړ او ویجاړ شي
چې ځنګلي حیوانات به په کې
اوسیږي. هرڅوک چې له هغه ځایه
تیریږي، نو ملنډې به ورباندې وهي

او وپرېږي به.

## د اورشلیم د سرکښی سزا او خلاصون

١ افسوس د اورشلیم په حال
چې سرکښه او فاسد ښار دی او په
خپلو خلکو باندې ظلم کوي. ٢
هغه د ښښتن خبرو ته غوږ نه نیسي
او نه اصلاح کیږي. هغه په ښښتن
باندې توکل نه کوي او نه د مرستې
په خاطر هغه ته سوال کوي. ٣ د
هغه مامورین د غورېدونکو زمریانو
په شان دي. قاضیان یې د وږیو
لېوانو په شان دي او دومره وږي دي

چې تر سهاره پورې هېڅ شی هم نه پرېږدي. ۴ پیغمبران بې‌مسوولیته او خاینان دي. کاهنان د سپېڅلو شیانو سپکاوي کوي او هغوی د خدای قانون ماتوي. ۵ خو څښتن لا اوس هم په هغه ښار کې موجود دی. هغه بې‌انصافي نه کوي او غلط کار نه کوي. هغه په دوامداره توګه هره ورځ خپلو خلکو ته انصاف ښايي، خو بدکاره خلک بیاهم خپلو بدو کارونو ته دوام ورکوي او نه شرمېږي.

۶ خښتن وايي: «ما ډېر قومونه
له منځه وړي دي، د هغوی ښارونه
مې وران کړي دي او د هغوی
دېوالونه او برجونه مې په کنډوالو
باندې بدل کړي دي. ښارونه شاړ
شوي او کوڅې خالي دي، ترڅو
هېڅوک په کې تګ او راتګ ونه
کړي او هېڅوک په کې پاتې نه دي.
۷ ما فکر کاوه چې بیا به خلک
زما څخه وېره وکړي او ځانونه به
اصلاح کړي. بیا به د هغوی د
اوسېدلو ځایونه تباه نه شي او ما
چې هغوی ته کوم درس ښودلی

دی، هغه به نه هېروي. خو هغوی یوازې د دې شوقمن دي چې د پخوا په شان هر ډول بد کارونه وکړي.

**نور قومونه په څښتن باندې ایمان راوړي**

٨ څښتن وايي: «صبر وکړئ، د هغې ورځې انتظار کوئ چې د قومونو په خلاف راپورته شم. ما دا پرېکړه کړې ده چې قومونه او پاچاهۍ سره راټول کړم چې خپل قهر او غضب ورباندې نازل کړم.

ټوله دنیا به زما د غیرتي قهر په اور
کې له منځه لاړه شي.

⑨ زه به د خلکو خبرې په سمو
خبرو بدلې کړم او هغوی به یوازې
ما ته دعا کوي. هغوی به اوږه په
اوږه زما خدمت کوي. ⑩ د ایتوپیا
د سیندونو د بلې غاړې څخه به زما
عبادت کوونکي یعنې زما خواره
واره خلک به هم ما ته نذرانې
راوړي. ⑪ په هغه وخت کې به
تاسو چې زما قوم یئ، په دې خاطر
به نور نه شرمیږئ چې زما په

وړاندې مو سرکښي کړې ده. زه به
هر کبرجن او مغروره کس ستاسو له
منځ نه ورک کړم او تاسو به بیا په
سپېڅلي غره باندې زما په وړاندې
سرکښي نه کوئ. ١٢ خو زه به هلته
یوازې عاجز او خاکساره خلک
پرېږدم او هغوی به ما ته پناه
راوړي. ١٣ د اسراییلو کوم خلک
چې ژوندي پاتې دي هغوی به د
هېڅچا سره غلطي نه کوي، دروغ به
نه وايي او څوک به نه غولوي.
هغوی به په سوله او امن کې ژوند
کوي او د هېچا نه به نه وېرېږي.»

۱۴ ای د اسراییلو خلکو

د خوشحالی ووهئ
چیغې او سندرې
وایئ

ای د اورشلیم خلکو

خوشحاله اوسئ او
خوښي کوئ د زړه
له اخلاصه

۱۵ ستاسو سزا نه ښبنتن شولو
تېر

هغه ورک کړل ټول
دښمنان ستاسو

ښبنتن، د اسراییلو پاچا مل
دی ستاسو سره

نور مه وېرېږئ له هیڅ
بلا نه

۱۶ راروان دی هغه وخت

چې به وویل شي
اورشلیم ته

مه وېرېږه د صهیون ښاره

پام چې کمزوری نه
شې

۱۷ تا سره مل دی ښښتن خدای

هغه قوي عسکر دی
او تا ته به درکړي
نجات

وي به خوشحاله ښبنتن ستا
نه

په خپله مينه کې به
درکړي ارامي تا ته

وايي سندرې درته او
وي به خوشحاله
ستا نه ⑱ ښبنتن
وايي:

زه به راټول کړم هغه خلک
چې غمجن دي

ځکه کولای نه شي
چې اختر ولمانځي

ما لېرې کړې بدبختي له تا نه

او بې‌عزتي مې ایسته
کړې له تا

۱۹ راروان دی هغه وخت

زه به ورکړمه سزا هغو
ته

چې په تا باندې يې

ظلم کړی

زه به ګوډانو ته نجات ورکړمه

زه به راولم جلاوطني
خپلو کورونو ته

د هغوی شرم به بدل کړم په
عزت باندې

او مشهور به يې کړم
ټوله دنيا کې

۲۰ راروان دی هغه وخت

کور ته به راولمه زه ستا
خپاره شوي خلک

ټوله دنیا کې مشهور به کړم تا

او یوځل بیا به دې
نېکمرغه کړمه په خپل
ژوند کې ښبنتن داسې
ویلي دي.

+1 807.700.9066 تاسو پوښتنې لرئ؟
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳